ورځومه ورتـه خاندمـه
اوومـه ورتـه خاندمـه

انتهـا تـه رسـولی یـم
ي سـوزومه ورتـه خاندمـه

وي کـړی دی حيـران يمـه
م ويرومـه ورتـه خاندمـه





بيـا مــې رايـاد شـوی يــې مـراد دې د راتلـو نيسـم
سـتورو تـه اوبـه د شـپې کېدمـه ورتـه خاندمـه

څـومره بـې وسـي ده چـې لاسـونه دواړه نـه لـرم
شـپه ده دروازه پـه پښـو وهمـه ورتـه خاندمـه

ستا د ياد مرغان دې اوس اوسېږي په دې غرونـو کـې
ځـالې پـه کوټـه کـې ورانومـه ورتـه خاندمـه

مخ ته مې نيغ ودرېـده ***باقره***! سـتا مـات شـوی زړه
ماتـه ايېنـه راټولومـه ورتـه خاندمـه



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــوره شــپه وه اوازونــه راپســې وو
پــه کوټــه کــې دېوالونــه راپســې وو

ما څادر دومره په شړک راوچت کړی
چــې تــر کــوره کاغذونــه راپســې وو

ټولــه ورځ بــه تــږی ګرځېدمــه
او پــه خــوب کــې بــه سـیندونه راپسې وو





خدایــه! ســتا پــه لټــون ســر وم نــا خبــر وم
خپلــې پښــې او خپــل لاســونه راپســې وو

پــه دې دښــته کــې یــوازې زه روان وم
څنګــه ســتا د پښــو خاپونــه راپســې وو ؟

د نظــر ښیښــه مــې ماتــه کــړه ***باقره***!
چــې کــاږه واږه مخونــه راپســې وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محبت باندې خپل زړه وینځمه
زه په اوبو باندې اوبه وینځمه

زما د لاس نه د چا نوم وران نه شي
مورې نور لوښي د کور نه وینځمه

زه هره شپه په خوب کې څکمه شراب
سحر په زهرو باندې خوله وینځمه

بیا د چا یاد لېوني کړی یمه
په خپلو اوښکو خپل بانه وینځمه

***باقره!*** دومره وچکالي شوه توبه
خپلې جامې په بارانه وینځمه





توره شپه ده ورکه کړې مې کونجي ده
اوس به چرته ځم کراره کراري ده ؟

زه په زهرو پسې تللی ومه خدایه!
خو راوړې مې له ځان سره چیني ده

په دې کور کې یو شاعر پاتې کېدلو
د دې کور یوه کوټه اوس هم خالي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



موده وشوه چې له تا سره وسېږم
موده وشوه تنها شوې تنهايي ده

په دې خلك نه خو كانې ښه پوهېږي
د اوبو نه مې زده كړې قوالي ده

هغې بيا ګلاب نيولى دى په لاس كې
خوشبو بيا ليونۍ كړې خوشبويي ده

چرته لاړ شمه ***باقره***! نه پوهېږم
بهر شور دى په وجود كې خاموشي ده





○

د چا يادونه درنه مړه نه شي كه زړه ودرېدې
كانې به خامخا ودرېږي چې اوبه ودرېدې

په هغه ځاى كې زه اوس هره شپه ډېوه بلوم
په انتظار كې چې به چرته راته ته ودرېدې

بيا مې ونه سوزي لاسونه د لفظونو خدايه!
د الهام پېغلې مې د خيال په تناره ودرېدې

اوس چې ځپې دريسې شوي ترېنه منډې وهې
د سمندر په كنارې باندې به نه ودرېدې

***باقره***! خلك ټول كاڼه وو په غوږونو باندې
چا ته دې غږ كاوه چې پاس په سر د غره ودرېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حېران ناست وم د هجران په شپه باران ته
ځاځکي زمکې نه خاته پورته اسمان ته؟

زماني ور پسې بېرته را ستنې شوې
يو سرې ډېوه نيولې وه توپان ته

په لاسونو کې مې نه را ټولېدله
ما پنځه کونجه دنيا راوړه جانان ته

چې تر څو مې په کې ته لېدلی نه يې
تر هغې پورې به گورمه خپل ځان ته

بايد گل خو په کې وکړي ***باقره***!
د وجود خاوره مې ورکړله گلدان ته





د محبت د اخري حد په حصار کې يمه
تاسره ناست يمه او ستا په انتظار کې يمه

که رانه وپوښتې نو نوم يې راله هم نه راځي
زه چې وړوکی رالوی شوی په کوم ښار کې يمه

زما د وينې په هر ځاځکي پسې گرځي ښکاريان
زخمي مارغه يم ترې پټ شوی په چنار کې يمه

توره تياره ده له خپل ځان نه مې هم وېره کېږي
خلک ويده، ورونه بند او زه په لار کې يمه

وجود مې ورو ورو ختموي راباندې ليکي تاريخ
***باقره***! چا داسې تاو کړی په پورکار کې يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دښته ده، تږی یمه، دومره په کې زه سړیه!
کاږي زېښم تړې را وباسمه اوبه سړیه!

د ښار د خلکو نه لګیا دی تېری سترګې لوېږي
غوږ رانږدې کړه بس نور مه راوړه رانجه سړیه!

توره تیاره، د چا یادونه، درد، او اوښکې، سلګۍ
زما په خیال خو موسمونه دي پنځه سړیه!





څاڅکي را غورځي او جینۍ ورته منګی نیولی
څادر راځوړند دی لوند خیشت په دېواله سړیه!

چونه په مخ، رنګ په لاسونو او سورۍ لمنه
په ټول بازار کې خلکو ماته رالېده سړیه!

زه په خوله ګونګ ومه او ته په غوږو کوڼ ***باقره***!
زما اواز نه خاته تا نه اورېده سړیه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي تکيه ورته وهلې او دېوال نشته دی
د مصور دغې تصوير ته د چا خيال نشته دی

خدايه! کافر نه شم اذان په غوږو نه اورمه
خدايه! د زړه په لوی جومات کې مې بلال نشته دی

راځه راځه زمونږ پسې به د چا سترګې واوړي
چې زه رانجه خرڅوم ستا په زنه خال نشته دی

د خپلو اوښکو حفاظت هم غنيمت ګڼمه
په لمن تور لرم او بل ښار کې دسمال نشته دی

***باقره***! جوړې دې ډېوې کړي چې تيارې ختمې شي
د وجود خاورې ورکومه خو کلال نشته دی





ښيښې پاکېږي ترې غبار روان دی
اوس په ذهنونو باندې کار روان دی

زما له اوښکو نه تېزاب جوړوي
د يو سړي پرې ښه روزګار روان دی

د اسرافيل شپېلۍ يې واورېدله
د پاړوګر د شکور نه مار روان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې وجودونه زندګي اوبه
ورځ په ورځ کمېږي له کوهي اوبه

يه خدايه! خپل ځان ورته ورو ښايه
سترګې شوې اسمان ته د سږي اوبه

ټرې وي په خوب کې ټوله شپه ولې؟
څوك چې د شپې خپل سر ته کېږدي اوبه





ما په دې ښار کې داسې عمر تېر که
چې ځم له ما سره ټول ښار روان دی

د هر چاسيورى خپل وجود ته ژاړي
هر څوك ذره ذره په لار روان دی

*باقره*! بل کړه څراغونه د کور
شپه را روانه ده سهار روان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دې زه مړوند ته غاړه نه ږدمه
لاس دې کانې شوې دې بنګړي اوبه

مړ چې شو له تندې نه پرې پوې شومه
مانه به غوښتلې يو ګونګې اوبه

ناست چې وې درياب ته بې لاسونو څوک
څنګه به **باقره**! وايه څکي اوبه؟





په هغه ورځې په ټول ښار کې يوه ستنه نه وه
چې ستاګرېوان نه و، او ماپورې لمنه نه وه

لېونى نه وم لېونى شوم، لېونى دښته کې
د لمر تر سيوري لاندې کېناستمه ونه نه وه

د دروازې نه مې پرده راښکله پټ شوم په کې
د ژمې شپه وه او په کور کې مې بړستنه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا انتظار و، که په ماباندې وخت نه تېرېده
چې ورنېږدې شوم په دېوال کې دسات ستنه نه وه

ما ورله څوځل د نيولو اراده کړې ده
ستا د غمونو پورې پښې وې مګر زنه نه وه

په چغو چغو دې کاڼه کړل اسمانونه ولې
***باقره***! پښې کې دې اغزی تلی و غنه نه وه





○

ستا د سترګو سمندر چرته روان دی
په ما سر ګرځي که، غر چرته روان دی

توره شپه ده سترګې مړم څوک راغلي
د لاسونو نه مې ور چرته روان دی

د يوه سړي تنه ورپسې ګرځي
د يوه سړي نه سر چرته روان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري بیا کومه تور سرې شوه سر توره
هوا نشته او څادر چرته روان دی

د ماشوم بچي تصویر یې دی په لاس کې
په دې لاره مسافر چرته روان دی

صبر وکړه درته وایمه ***باقره***!
ستا په اړه مې نظر چرته روان دی





## *تصویر*

د ژوند یو بل تصویر ته فکر یوړم
د ښار په منځ کې د سړک په غاړه
یو سړي لمونځ په خپل څادر کولو
ملا اذان د مازیګر کولو
زه چرته تلمه ورته ودرېدمه
چې لمونځ یې وکړلو راپاڅېدلو
څادر یې څنډ واهه او چغې یې کړې
جانمازونه واخلئ
جانمازونه واخلئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د بدن نه مې راټول کړه په ښيښه کې عطر
نن مې د تيلو په ځای راوړه په ډېوه کې عطر

دا ځل به هم زما دننه موسم نه شي بدل
دا ځل به هم خبر دی زه وڅکم په پياله کې عطر

توره تياره د خاورو بوی زما سلګۍ او ستا ياد
باران وريږي راڅڅېږي په کوټه کې عطر





په دې نوټونو نوشته انسان به هم راوېښ شي
که مې راټوی شول د خپل جېب په دريڅه کې عطر

هغه سړی دا ستا د زلفو خوشبويۍ پاګل که
هغه سړي چې خرڅول ستا په کوڅه کې عطر

ګل چې را ياد کړمه نو ته راته په خپله ياد شې
چا ويل چې نشته د ***باقر*** په حافظه کې عطر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زما په زړه کې غم د چا چرته ځي
په دې ځنګل کې څوک تنها چرته ځي

چې د چا لاس مات شي نو غاړې له ځي
چې د چا سر مات شي نو دا چرته ځي

د څادر پیڅکې ځان پسې راکاږي
توره تیاره ده سړی بیا چرته ځي





ښه چې له ما سره ده وي دې کنه
ښه چې له مانه وځي ساه چرته ځي

ځان ته مې وکړه او هوا واورېده
زما خبره به اوس بیا چرته ځي

***باقره***! زه ورته حېران ولاړ یم
دنیا روانه ده دنیا چرته ځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ملنګه! تاته هم د هغه ښار نامه نه راځي
چې په مخ سل کوره راځي خو دروازه نه راځي

سمندر وېل چې زما زړه ته به ګېله نه راځي
چې زه ورنه شم کنارې ته کناره نه راځي

زه چې ماشوم ومه نو مور به راته هیڅ نه ویل
زه چې رالوی شومه نو ماته هم غوسه نه راځي

ښه زما څه کار و، چې بیا مې ستا تصویر راخیسته
ښه زما څه کار و، اوس خوب به ټوله شپه نه راځي

ما په یوازې ځان کنلی ورته قبر ناست یم
***باقره***! ستا د ارمانونو جنازه نه راځي





○

ګوزار په ځان کوم ښیښه راغورځي
زما د سر کاڼی په پښه راغورځي

لور ته چې غېږ وکړم هوا راشه
له دېوالونو نه ډېوه راغورځي

ستا انتظاري ټکوي په لار کې
زما د سترګو دروازه راغورځي

چې په کوم کور کې ماشومان نشته دي
په هغه کور کې باډېوه راغورځي

***باقره***! مونږ ترېنه ویده پاتې شو
ګني نو ستوري هره شپه راغورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

په دېوال کې لګوم ستا تصويرونه
له بڼو نه مې جوړ کړي دي مېخونه

په دې توره شپه مې بيا زړه ته رانه شئ
په غمونو مې تاو کړي دي غوږونه

چې ښېښې مو په لاسونو کې نيولي
په اوبو کې ولې ګورو خپل ځانونه

پاکومه بيا د چا له کوټې ځالې
جوړومه ترېنه ځانته بالښتونه

په دې لاره باندې څوک تلی ***باقره***!
په سړک باندې راشوي دي ګلونه

❧◆☙





○

تا چې ترلی د ساګانو نه مې تار پروت دی
نه نه غلط شومه په غاړه کې مې مار پروت دی

ولې په ما باندې د ښار سترګې راډکې نه شوې
ولې په تاپسې په بله مخه ښار پروت دی؟

زه په اوبو کې تصويرونه جوړولی شمه
زما په ذات کې د رنګونو لوی فنکار پروت دی

د ګل نه پاڼې شوکوي خدايه د پښو په ګوتو
دا سړی څوک دی او د چا په انتظار پروت دی؟

د اسمان ستوری او هغه هم بيا د ورځې ګورم
د انسان سر دی او هغه هم بيا په لار پروت دی

خوب ته مې نه پرېږدي ***باقره***! ټوله شپه لګيا وي
د زړه په غېږ کې مې د چا د غم سيتار پروت دی؟

❧◆☙

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان یمه له ځان نه وهم منډې منډې
قیدي یم له زندان نه وهم منډې منډې

په خوب کې مې سېلاب وړي او په خلي ځان رانیسم
په ویښه له باران نه وهم منډې منډې

په ژوند نه یم په دې یمه چې خون ونه کړي خدایه!
وېرېږم له انسان نه وهم منډې منډې

ای زه خو ورو په ورو ورنږدې کېږمه سړیه!
ای زه خو له اسمان نه وهم منډې منډې

دنیا نه ده ***باقره***! که ریښتیا رابانډې وایې
ځنگل دی له حیوان نه وهم منډې منډې





ویده شوی په ژړا ژړا وم شپه وه
چې راویښ شومه په کور کې مې چینه وه

زړه زما ورپسې وران و یو څو ورځې
خوشې شوې له ماشوم نه غباره وه

دې خبرې ته حیران د دوکاندار یم
بخت دې شه دی آخري یوه ډېوه وه

اوس راووته سړی د حوېلۍ نه
ټکولې مې کال مخکې دروازه وه

دریابونه راپسې وو خبر نه وم
زما پښو پورې نښتې کناره وه

راستون شوی بېرته وخت نه و ***باقره***!
په دېوال کې د سات ستنه سرچپه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی کړی یم احساس او شپه ده
کور ته روان یمه تش لاس او شپه ده

خدایزده اوبه دي او که زهر په کې ؟
تږی یم ګورمه ګیلاس او شپه ده

په دېوالونو باندې خوله لګوم
تا سره نه کېږي تماس او شپه ده

څومره چې ښکته راځم زه رڼا ده
څومره چې خېژمه زه پاس او شپه ده

***باقره!*** سم د مصور تصویر دی
غردی، ځنګل دی، زه یم اس او شپه ده





سړیه! واوره یمه لمر ته ځمه څه به شمه
څوک خو به تنده په ما ماته کړي اوبه به شمه

که تصویرونو ستاسې خوښه وي پېره مې کوئ
که دېوالونو ستاسې خوښه وي ویده به شمه

اور خو دې راکه چې سکاره شم ښه مې وټکوه
بیا مې په سترګو پورې ومږه رانجه به شمه

یوه دانه یم د غنمو د دهقان په جېب کې
څو ورځې پس لکه ځنګل په کې راوبه شمه

ستا د بېلتون شپه به د یو بل په ډاډ تېره کړمه
درد او غمونه به شي، یاد به شي، او زه به شمه

له خولې نه وتې لاړې بیا چرته راغلې خولې ته
***باقره!*** دا یقین مې نه راځي چې ښه به شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه غوندې باران یم
وریدلی په اسمان یم

لکه ته او زه روان یو
باد او ښلي ته حېران یم

چې پرده یې د خادر ده
زه د هغه کور انسان یم

د هوا سترگو کې شگې
غورځومه بیابان یم





خرڅوي په ما کې کانې
او د سرو زرو دکان یم

د شپې وي د ورځې نه وي
له خپل سیوري سره وران یم

گل روان دي په اوبو کې
په تصویر کې ورک له ځان یم

ډوب مې نه کړې سمندره!
د ***باقر*** د زړه ارمان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

خومره به تنګه وي په ما کې زندګـي دننه
ور مې رابند که رانه پاتې شوه کونجي دننه

چې په ځنګل کې مې پانزیب د چا د پښو پیدا که
د محبت په کې پرته وه ګواهي دننه

زه چې برق مړ نه کړم تر هغې د شپې خوب نه راځي
او خو دا خومره ده په ما کې رڼايي دننه





داسې بې حسه شوم او داسې بې ارمانه شومه
لکه چې ګونګه شي په چا کې موسيقي دننه

ما چې پوکی ورکه په ما باندې دېوال پرېواته
خدایه! څه پټ دي خامخا د دې مېږي دننه

*باقره*! خود مې د لفظونو نه راڅاڅي وینې
د خیال په پښو مې نښتي دي اغزي دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته په کې کاڼي غورځوې او زه ګلاب سړیه!
بیا دې هم هر وختې پوښتنه کړي درياب سړیه!

خپلې جامې دې پرې آوارې کړې مجرم مې ته شوې
ما زندۍ کړی و خپل ځان په دې تناب سړیه!

چې ماشومان مې د مکتب نه چرته پاتې نه شي
د ونې پاڼو نه به جوړ کړمه کتاب سړیه!

زه د نشې په ځای له خپل ځان نه تیارې وباسم
زه د پیالې په ځای ډیوه کې څکم شراب سړیه!

***باقره***! دومره زر دې ولې له خپل زړه وویستم
ماته خو نه راځې د دغه سوال جواب سړیه!





په توره شپه ستا د مړوند په تصور ویده شم
په کاڼي سر نه ږدمه کاڼي ږدم په سر ویده شم

زه چې په ماتو پښو سفر کوم منزل ته رسم
زه چې په ماتو شیشو څملمه نو زر ویده شم

خدایه! په خوب کې راپسې وي بلاګانې د شپې
چې د انسان له وېرې زه په مازیګر ویده شم

بس دومره سترې او ستومانه زه له کاره راشم
څنګه چې وټکوم زه نو د کور ور ویده شم

پرېږده ***باقره***! چې د خیال څپې مې یوسي چرته
پرېږده چې زه په کناره د سمندر ویده شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل وجود کې ګرځېدمه ټوله شپه ورپسې
زړه مې په لاس کې و لېدله مې سینه ورپسې

زه د خپل ژوند تصویر ته ګورمه په دغه نظر
بس یو ماشوم دی بنده شوې دروازه ورپسې

شا به تکړه شه اوس په ټوله لاره سر خوزوه
شا به تکړه شه ارمانونه اوس کوه ورپسې

دلته یوڅوک دی چې ګرځېږي ایېنې پسې تل
دلته یو څوک دی چې ګرزېږي ایېنه ورپسې

د یو کاغذ نه مې کشتۍ وه جوړه کړې چرته
***باقره***! راغله له دریاب نه بیا څپه ورپسې





ښه راته یاد شو په اسمان کې چې سپوږمۍ تېرېده
زه چې ماشوم وم نو اکثر به مې روپۍ تېرېده

چې به راویښ شوم په ځنګل کې به مې چغې کړلې
چې به ویده شوم، په دریاب کې به کښتۍ تېرېده

د مصور دغه تصویر په ښار کې ډېر خرڅېده
لاندې کېږدۍ وه او د پاسه پرې مرغۍ تېرېده

د زندګي په منځ کې بیا د مرګ پیغام خور شوی
د هډېرې په منځ کې بیا د چا ډولۍ تېرېده؟

زما د سترګو نه به خلې راوته ***باقره***!
زما په زړه کې به د چا د یاد سیلۍ تېرېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت ما هم کاوه تا سره خو زړه مې ساته
په کوم تیلي مې چې ډیوه بله کړه وه مې ساته

په یوګلاب باندې مې ټول عمر عذاب تېر کړی
د بیابان نه مې راوړه له بارانه مې ساته

ځالې يې کړې وې او ما هم پېژندلې نه شو
د چا تصویر و چې د کور په دېواله مې ساته ؟

د ځادر پيځکه خو مې زمکې ټوله وخوړله
ستا په لټون ومه او درد د بیلتانه مې ساته

***باقره***! ماته هر يو باب د ژوندانه يادېده
چې د ژوندون په لوی کتاب کې ستا باڼه مې ساته





د ژوندانه ځنګل ته تلم خو راته ښکار نه راته
په ما کې زهر وو نږدې به راته مار نه راته

په دې بازار کې به مې درسته ورځ ګلان خرڅول
خو په یوګل باندې، به هم دګل ګوزار نه راته

د کور سودا مې هم له ځان سره چا نه کېښوده
زه چرته تلمه او په دې د چا اعتبار نه راته

ستا په مړوند باندې مې دومره ډېر خوبونه کړي
زما په غاړه کې بنګړي راته خو هار نه راته

***باقره***! داسې ځای ته تلمه په ځان نه پوهېدم
سیوري راتلل راته په لار انسان په لار نه راته

د وجود خاوره مې لمده شوه په هوا راغورځې
چې د باران اولنی څاڅکی په ما راغورځې

ما اورېدلي چې تا هم ورته نيولې لمن
ما اورېدلي چې له اوښکو نه رڼا راغورځې

زما د خيال په جګ پتنګ پسې ټوپونه وهې
دغه ماشوم به د کوټې له سره بيا راغورځې

د ژوند سيکه زما د لاس په کرښو نه پوهېږي
زه يې په مخ ولمه او ده بېرته په شا راغورځې

دا په ما سرګرځي سړيه! که اسمان ولاړ دی
دا په ما سرګرځي سړيه! که رښتيا راغورځې

***باقره!*** ساه لري ژوندی دی او له تا شرميږي
د چا تصوير ته په دېوال مه ګوره بيا راغورځې





يوه دنيا مې له وجود نه هره شپه راوځي
ښيښه چې ماته شي له دې نه هم ځېره راوځي

ستا د غمونو کاڼي نور په زړه کې نه غورځوم
د سمندر له کنارې نه به ځپه راوځي

چې ماشومان اوس ګينګانو ته مايه وباسي
منډې کړي ووړېږي هلته هديره راوځي

په کاغذونو باندې ليکو د يو بل نومونه
بيا يې راواخلو چې د چا په کې نامه راوځي

***باقره!*** زه داسې منظر ته درېدلی يمه
باران ورېږي او زما په مخ خوله راوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت وېره په ذهنونو کې ويده ده
اژدها مو په کورونو کې ويده ده

د زړه سات مې کړي ټک ټک راويښه نه شي
تنهايي په دېوالونو کې ويده ده

يو ماشوم پرې غباره اخلي خپل ځان ته
شاعري په کاغذونو کې ويده ده

د قسمت په جيب کې مه لټوه ستوري
ستا دعا ستا په لاسونو کې ويده ده

ته په ځان هم لا خبر نه يې **باقره**!
او دنيا دې په خيالونو کې ويده ده





خلى مې تللى دى د غم سترګو کې
ستا د خادر پيڅکه وهم سترګو کې

چې په شيشه کې خپل بانه ګورمه
لکه راشوي مې غنم سترګو کې

زه په تخليق پسې ړوند شوی يمه
څوکه مې تللې د قلم سترګو کې

د چا يادونه به بيا لامبي په کې
که مې لږ نور پرېښوده نم سترګو کې

باقره! دومره رانږدې شو زړه ته
سړي مې کېښوده قدم سترګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویرونه د چا شته او د چا نه شته
اوس خوبونه د چا شته او د چا نه شته

دا صحرا ده او که ښار د پښتنو دی؟
گرېوانونه د چا شته او د چا نه شته

لرې خرڅې کړم ډېوې ډېرې واپس کړم
دېوالونه د چا شته او د چا نه شته

فالي مه راځه نور دلته خوښه ستا ده
چې لاسونه د چا شته او د چا نه شته

په دې دښته کې خپل ځان خنگه پېدا کړم
چې خاپونه د چا شته او د چا نه شته

د نکریزو غونډې سترگې شته ***باقره***!
خو رنگونه د چا شته او د چا نه شته





محبت ښه دی خو په زړه کې مې سودا ایښې ده
سترې سرې په سترې شوې دېوال ملا ایښې ده

ته صبر وکړه چې تصویر خو دې راواخلم کنه
ته صبر وکړه د بالښت لاندې مې ساه ایښې ده

نه زه په خپله د احساس په زنځیر ځان وهمه
نه ما په خپله په اوږو ټوله دنیا ایښې ده

هم دا دې وخت دی بس د زړونو ډېوې مړې کړه پرې ځه
د څه لپاره دې په زلفو کې هوا ایښې ده؟

په دومره خلکو کې زما سترگو ته شگې راوړي
***باقره***! باد په خپلو لپو کې صحرا ایښې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور د شپې بل نه کړې نور تیلي باندې
ستوري دې ړانده کړل په لوګي باندې

ستړې یم، ستومانه یم، بې دمه یم
مورې بیا مې وتړه سوزني باندې

وایم چې کېدای شي وي یوسف په کې
سر د پاسه نه بږدم په کوهي باندې





بیا مې ټول وجود شولو میږي میږي
بیا مې پښه راغلې په میږي باندې

شګې د هوا سترګو کې پریوتې
مړه دې ډیوه نه کړه په پوکي باندې

شک مې دی ***باقره***! د قاتل په چا؟
لمر دی لاس مې ایښی په تندي باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړم په اوړو د غم واړه، روان یم
نوم مې وتلی دی د زړه، روان یم

ناري وهي راته بهر جدایي
تصویر دې ږدم په دېواله، روان یم

له دې نه مخکې پرې څوك نه دي تللي
په داسې لاره باندې زه، روان یم





یو بل ته نه وایو د ژوند حالونه
ځان سره هسې خوله په خوله، روان یم

څوك مې راویښ کړئ د کمر نه غورځم
سترګې مې پټې دي ویده، روان یم

باقره! ستړی او ستومانه یمه
غر مې په سر دی او په غره، روان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محبت به دې سوچ وکړم وېرېدلی یمه
له دې کمر نه یو ځل مخکې هم لوېدلی یمه

غږ مې څوک نه اوري مری، مې خپله کېنوله
ژوندی تصویر یم په دېوال چا لګولی یمه؟

زه ستا د پښو نه یم لوېدلی ته خبره نه یې
د سرو پانزېب یم یو ماشوم چرته موندلی یمه

دا چې په دشته کې ګرځېږم تږی کېږمه نه
د چا په زړه لکه باران راورېدلی یمه ؟

راشه! راجګ مې کړه، لاسونه خو دې نه ماتېږي
***باقره***! زه د خپلو پښو لاندې راغلی یمه



د هوا سترګو کې شګې — شاه نواز باقر

باید لیکلي وی سرې په دېوال
کرښې مې نه شته د تندي په دېوال

زما د زړه غابښونه وبرېښېدل
راکاږم ستا د یاد اغزي په دېوال

موري! د دغې کور نه غږ کوي څوک
که وي راواچوه تیلي په دېوال

ماته اسمان او ستوري داسې ښکاري
لکه راجمعه وي میړي په دېوال

پل صراط مې مخ ته نیغ ودرېده
گرځي راگرځي لېوني په دېوال

ته یوه ورځ پرې راښکاره څه شولې
چې اوس راشوي کشمالي په دېوال

چې قلف مې مات کړ د خپل وره ***باقره***!
هله مې ولېده کونجي په دېوال





○

د زړه په کور کې مې یوازې ستا تصویر پروت دی
ماتې تمبې ته مې د سرو زرو زنځیر پروت دی

راویښ به نه شمه مړوند به دې اوبه شي گوره
زما په سترگو کې د ډېر وخت نه شوگیر پروت دی

ای په دې ښار کې مصور نه شته منظر ورښایم؟
په خپل رېښې رېښې څادر باندې فقیر پروت دی

نا نا، خپه نه شي، له تانه گیله نه کومه
ستا د احساس د پښو د لاندې ستا ضمیر پروت دی

له خپلو اوښکو نه به جوړ کړمه شبنم ***باقره***!
د مړاوي شوي گل په شان زما تقدیر پروت دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

باد او باران وربانډې راولي مخ تور ونيسم
د خدای نه ځار شمه، چې ستا تصویر په اور ونيسم

يوه موده په کې په ويښه تېروم خامخا
چې د زاړه کور نه راپسته نوی کور ونيسم

چې ګلاب راوړمه نو تاله يې په لاس کې درکړم
چې درد مې واخلي نو لمنه، زر د مور ونيسم

ماته دا ستا د اولاد غوښ سرونه نيغ ودرېږي
آدمه زه چې د غنمو سر ته لور ونيسم

***باقره***! خوك به په کې ګل د محبت واچوي
د ځادر پيڅکې به د دوو په ځای څلور ونيسم





○

ولې خپه شمه له تانه چې وعدې ماتېږي
کله نا کله د کولال نه هم ډېوې ماتېږي

مونږ هره ورځ د يو بل پښو نه راوباسو ښيښې
زمونږ په کور کې هره ورځ يو څو پيالې ماتېږي

پرېږده! په خپله به زړه راکړي چې غزل مې واوري
د بندې شوې دروازې کولپ په آرې ماتېږي

تیارې به سترې وي په ډېرو ودریدلو اسمان
تېرې په ډېرو ګرځېدو د زمکې پښې ماتېږي

اوښکې دې پاکې کړه ***باقره***! د امېد په دستمال
تل د رڼا په کانې سر د تورې شپې ماتېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د درد احساس سینې نه، نه وباسم
گرځم اغزی له پښې نه، نه وباسم

مړه، نه شي مور ته زخم نه ښايمه
مړه، نه شي تېل ډېوې نه، نه وباسم

زه پرې د ذات ځنگل ته اور ورکوم
زه اسويلي له خولې نه، نه وباسم

ستا تصويران به ترې را وباسمه
خو تنهايي کوټې نه، نه وباسم

ما په اسمان کې داسې څه لېدلي؟
***باقره***! سترگې ترې نه، نه وباسم





○

زما په شان به ستا له غم نه هم تېرېږي اسمان
چې د شپې ويښ وي، او د ورځې ويده کېږي اسمان

هر سړی وايې چې کوټه مې راڅڅېږي د کور
هيچا ونه ويل چې ولې راڅڅېږي اسمان؟

که چرته مړ شومه نو ځان به په خپل ځان کې ښخ کړم
زه زمکه نه کنم په دې باندې خورېږي اسمان

په دغه کلي باندې ځکه تندر نه راغورځي
په دغه کلي کې يو څوک دی چې نومېږي اسمان

زه به ترڅو کوم په کاڼو تصور د ستورو؟
***باقره***! سترگې مې ړندې دي رايادېږي اسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـوره تیاره ده مگر زه یې په سحر لټوم
سر ته مې ایښی دی په خوب کې خپل څادر لټوم

خدایه! کېدای شي که له مانه هم بېوسه وي څوک؟
ډوډۍ مې لاس کې ده، بازار کې څوک نهر لټوم

ستا محبت راته دریمه دنیا هم را ښایي
د ورځې ستوري لټومه د شپې لمر لټوم





زه به تر څو پورې ښیښې ته ودرېدلي یمه؟
زه به تر څو پورې په سترگو کې نظر لټوم؟

تا چې پرې زه ویشتم هغه کاڼي فایده راکوي
زړه چې مې تنگ شي نو په خپل وجود کې غر لټوم

د خیال اسمان ته ورختمه غورځېدلی یمه
***باقره!*** ځکه خو په زمکه خپل وزر لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرکوه راشه د سندرو سرنامې پاتې دي
زما د خولې لاړې په زمکه لا لمدې پاتې دي

زما په خيال نن د دنيا يوه حصه لمده ده
زما په خيال د دنيا درې وچې حصې پاتې دي

هر چا په ځان کړی ګوزار خو زخمي شوی نه دی
کانې رېزه رېزه پراته او ايښې پاتې دي

زما او ستا يو ځای کېدل هيڅ امکانات نه لري
له مانه وروستو تانه مخکې زمانې پاتې دي

بلها موده وشوه چې زه کور نه راغلی يمه
**باقره**!بلې په کې اوس هم لا ډېوې پاتې دي





شپه ده د کور د دېوالونو نه مې ساه ختلې
سترګې مې شته خو د خوبونو نه مې ساه ختلې

چغې وهمه چا بالښت راته په خوله ايښی دی
ښپې خوځومه د لاسونو نه مې ساه ختلې

نن مې جامې د ښار په داسې دوبې ووينځلې
چې د لمنې د داغونو نه مې ساه ختلې

منډې وهم باران ورېږي ما په سر نيولي
د کتابونو د لفظونو نه مې ساه ختلې

**باقره**! غوږ مې دی نيولی اسرافيل شپېلۍ ته
د ژوندانه د امېدونو نه مې ساه ختلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کاڼي نه جوړېږي
اېینه څه له ماتېږي ؟

اسرافیله پوکی ورکړه
خلک ساز ته خوشالېږي

تصویرونه په کې وینې شو
دېوالونه راغورځېږي





د دریاب په غاړه ناست دی
د اوبو پسې څورېږي

په دې دومره لوی هجوم کې
فقط خپل غږ رارسېږي

له لمن به مې داغ پاک شي
خو دریاب به پرې وچېږي

په وجود کې مې یو شی دی
هره ورځ رانه ورکېږي

ستا په شانتې ډېر باقره!
په خپل ځان پسې ړندېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زما په سترګو کې اوبه ستا په نظر کې کاڼي
شکر چې خلك خو پرېږدي په سمندر کې کاڼي

زه چې اوس اور د لمر له تاو نه بلولی شمه
يو وخت و ما به ماتول په مازيګر کې کاڼي

ستا د بېلتون درد که هر څومره بې سکونه کړمه
خبر د پښو لاندې ماتېږي په سفر کې کاڼي

راځه چې وشمارو په يو ځای په اسمان کې ستوري
راځه چې وشمارو زما د زړه په غر کې کاڼي

دغه پوښتنه ترې تر اوسه پورې چا ونه کړه
چې ***باقر*** ولې ګرځوي تل په ځادر کې کاڼي ؟





○

ځان مې قاتل دی ترې پټ شوی يمه شاته د ځان
دا سړی پېژنئ تصوير ښايم دنيا ته د ځان ؟

مانه د ورځې يو پنځه کرته سترګې غورځي
ستا محبت دومره راوستی انتها ته د ځان

اخ دې يوې غنم دانې راکې ځنګل راشين که
اخ ودرېدی نه شمه وړې مې اوس هوا ته د ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان راغورځي که اوبه د سمندر خوځېږي ؟
نه ماته پته شته د ځان نه ښايي تاته د ځان

توبه توبه دغه سړی په زړه کې خدای نه لري
توبه توبه زړه يې ورکړی دی بل چا ته د ځان

څوک راروان دی په وجود مې قدمونه کېږدي
باقره! غوږ نيسمه بيا د زړه درزا ته د ځان





زه يمه، ستا ياد دی، او ارمان سره
شپه ده، يو ځای شوي دي لېوان سره

خوري يې ماشومان چې ږلی شوې ده
ستوري رالوېدلي له باران سره

مور مې پرې نامه د بلال ايښې ده
زوی مې رايادېږي له اذان سره

خوب وينم لګيا يمه راويښ مې کړه
ګل کرم لګيا يم بيابان سره

سوال مې په ځان کړی بې ځوابه يم
ځان ***باقره***! ولې وړم له ځان سره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك له تندې مړه كېده باران په ښار نه كېده
ګل دې نيولی و خو زړه دې په ګوزار نه كېده

دواړو به خاورې غورځولې د يو بل سترګو كې
تانه راتله نه كېده مانه انتظار نه كېده

ما د كمر نه غورځوه ځان او تا نه نيومه
چې ستا په خوله د محبت ولې اظهار نه كېده؟





شكر وباسه چې د هجر دغه شپه تېره شوه
شكر وباسه چې بچي د دغې مار نه كېده

ځان مې وژلی و او سر ته مې خط هم ايښی و
بيا هم زما په وصيت د چا اتبار نه كېده

د نظر ستنه مې كړه شوله باقره! په كې
زما د اوښكو نه هر څه كېده خو هار نه كېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ کېدمه پرون ته راسره نه وې
په صحرا کې وم اوبه راسره نه وې

ته به هم راسره پروت وی په اغزو کې
غمه ښه دی چې ویده راسره نه وې

ښه مې پېژنې خو ځان دې غلی کړی
اوسېدلی وره په وره راسره نه وې ؟

کافر شوی یې خپل سیوري ته لگیا یم
چې ولاړ بیا په لمانځه راسره نه وې

پېژندلې مې هوا نه وه ***باقره***!
چې ډېوې د ژوندانه راسره نه وې





د ژوند کردار ادا کوم خو اداکار نه یمه
زه مختلف یم له دنیا نه خو فنکار نه یمه

ته راته وگوره بل چا پسې خو نه یم روان ؟
ته راته وگوره له ځانه خو ایسار نه یمه

دومره قاتې شوه چې اوبو رانه اوبه وغوښتې
دومره تیاره شوه چې پوی شوی په سهار نه یمه

زما او ستا محبت هم نور انتها ته رسي
گل مې نیولی دی خو ستا په انتظار نه یمه

***باقره***! تیگې ټکوه ترینه لمبې وباسه
که دنیا اور واخیسته زه دې ذمه وار نه یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستوري نه دي ماشومان دي نو په دې راغورځي
چې هره شپه د کاغذونو طيارې راغورځي

حيران ولاړ يمه چې کوم طرف ته منډه کړمه
له يو ديوال نه ايښې بل نه ډيوې راغورځي

په خيال کې ورک وم دروازه چا د دوکان بنده کړه
د ملاقات نه بغير هم زړه له سينې راغورځي





د ارتقا په تنابونو کړئ مونګولې ښخې
پيڅکې يې ښخې دي په زمکه لوپټې راغورځي

شکر دی خدايه ما پسې به هم لاسونه جيګ شي
په هديره کې له قبرونو نه لوحې راغورځي

باقره! ما په داسې کور کې زندګي تېره کړه
چې ټکوي يې څوک زنځير له دروازې راغورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترګو خوب مې ټوله شپه وي په شوګير تړلی
ما په څادر باندې د خپلې کوټې تير تړلی

په دې ويرېږم چې له ځانه مې څوک ځان پټ نه کړي
ليونی نه يمه خو ځان مې په زنځير تړلی

ښيښې ماتېږي تصويرونه په کې چغې وهي
زه يې را کاږم ما له ځان پورې تعمير تړلی

زما په جيب کې د قلم سياهي وبهېده
چې مې په جيب کې نن دننه ستا تصوير تړلی

د ژوند ډېوې به مې په کور کې بلې پاتې نه شي
***باقره***! ما چې له هوا پورې تقدير تړلی





روان په زمکه يم هدف مې د اسمان نيولی
لکه ماشوم مې خپلې ګوتې نه خپل ځان نيولی

هغه سړی اوس په کوڅه کې بينجاره نه پرېږدي
هغه سړي ستا له کبله روغ دوکان نيولی

د ورځې کانې او د شپې په کې راغورځې ستوري
په داسې ځای کې مې خبر يې چې مکان نيولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورته وګوره اسمان هم د ځان سیوری ټول که
ته ورته ګوره زمکې هم په موږ باران نیولی

په دغه ښار کې به ضرور وي د مالوچو قحطي
په دغه ښار کې هر سړي خیرې ګرېوان نیولی

په ایینه کې راته سم ښکاري حېران یم ورته
***باقره***! ما تصویر له ځانه سره وران نیولی





د کاڼي په صورت کې مې غمی لیدلی و
په زړه کې مې د ټولې دنیا خدای لیدلی و

سحر مې چې سوري د دېوالونو بندول
بیګا مې ستا تصویر باندې مېږې لیدلی و

ویل یې مورې زرکوه چاودنه به اوس وشي
په ښار کې یو ماشوم چېرته منګی لیدلی و

زما په ذات کې ځکه زنځیرونه شرنګېدل
په ژوند مې په ړومبي ځل لېوني لیدلی و

څو ورځې مې د پښو د لاندې زمکه نه راتله
***باقره***! ستا په پښه کې مې اغزی لیدلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاته به نه وایې یو راز د ژوندانه درکوم
سترګې دې نه شته خو بیا هم درله رانجه درکوم

شکر وباسه په دې دښته کې اوبه دررسي
شکر وباسه په دې وخت کې درله زړه درکوم

ته هره ورځ په ویښه ما په یوه کاڼي ولې
زه هره شپه په خوب کې ګل په دېواله درکوم

ما په پنځه کونجه دنیا کې هم پیدا نه کړلې
اوس به ته څه راکوې زه به درله څه درکوم ؟

***باقره***! ما هم د ژوند نوې سلیقه زده کړې
زهر خواږه درکوم زه او شات ترخه درکوم





تا چې راياد نه کړم په سترګو کې اوبه نه راځي
زما لاسونه چې خالي وي نو واړه نه راځي

داسې باران دی چې وریږي، زمکه نه لمدیږي
داسې سړی دی چې په زړه راځي، په خوله نه راځي

ولې ستاڅه خیال دی چې سترګې په سکرو تورې کړو ؟
ولې ستا څه خیال دی چې ښار ته به رانجه نه راځي ؟

اور ته پوکې ورکوې ته او مخ زما توریږي
ستاسو د کور لوګي زمونږ په دېواله نه راځي ؟

د زړه جومات کې مې ***باقره***! اوس سجده نه کوي
بس د چا غم دی کافر شوی په لمانځه نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا چې کړم هېر، هغه یاد کړې یمه
وړې سېلاب، بېرته راوړې یمه

اوس مې د تن سیوري ته ولې کېنې ؟
تا غورځولې وم، چې زړې یمه

وایې ډوډۍ مه راوړه وینې راوړه
خدایه! د داسې جومات چڼې یمه

په مایې ځان او جهان وپېژنده
زه ستا د سترګو پوره وړې یمه

ما د خپل سیوري لاس نیولې ځمه
**باقره**! مه وایه چې ستړې یمه





چې خپل وجود وربانده بار وي سړی ساه څه کوي
څوک چې له ځان سره رشته پرېږدي نو تا څه کوي

د دعاګانو دېوالونه مې اسمان ته رسي
ته صبر وکړه چې له ما سره الله څه کوي

یو زړه په دومره شي غمونو سترګې نه مړېږي
یو لېونی په دومره شګو د صحرا څه کوي

بلها موده وشوه چې زه ترینه راغلې یمه
د تنهایۍ پورې ورځمه چې تنها څه کوي

کاڼي راواخله په لاسونو کې ګلونه پرېږده
ما او تا څه کوو **باقره**! او دنیا څه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به مې خوري دننه مار چې مې د غره خوړلی
ما په ډوډۍ کې ستا د زلفو یو وېښته خوړلی

لېونی نه یم چې صحرا ته وړم، اوبه لپو کې؟
لېونی نه یم چې په خپله مې خپل زړه خوړلی؟

دواړه لاسونه مې اوس نه شته بې وجوده یمه
د کوتې تیر، او ستا تصویر، رانه وینه خوړلی





د انتظار او د دې دور تقاضې داسې دي
سترګې مې لار وخوړې، سر مې دېواله خوړلی

توبه توبه خدایه درتلمه خو درتلی نه شومه
توبه توبه خدایه تیندک مې په لمانځه خوړلی

د ژوند ډېوه دې د اومېد په تیلي بله ساته
***باقره!*** ستا د برخې لمر چرته تیاره خوړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره رڼا مې وه په کور کې خو ډیوه یې غوښته
څوك مې تنګ شوی و په زړه کې بهانه یې غوښته

ښه ده چې ما ترېنه په وخت دواړه لاسونه تاو کړل
ګنې دنیا سمندر وړله کناره یې غوښته

زه د خپل ورور سره د وینې رشته نه پرېږدمه
پلاره! دا هم ورکړه که خېر زما حصه یې غوښته

د خپل څادر نه مې کړه جوړه ورته وس مې نه و
زما بچی مکتب ته تلو رانه بکسه یې غوښته

په دغه ښار کې چې وې سترګې د چا ته یې غوښتې
***باقره***! سترګې چې د چا نه وې ښیښه یې غوښته





مړ یمه ځان ژوندی کومه خودکوشي کومه
توبه توبه بیا به څو کاله زندګي کومه

د محبت تندې اخیستی په ځان نه پوهېږم
ستا په بنګړي باندې لګیا یمه کوهي کومه

ای عزرایله راپسې څو به ته نه یې کنه؟
دا چې له کوره بهر وځمه تادي کومه

خدایه! لګیا یمه دعا در رسول غواړمه
خدایه! لګیا یم په لاسونو کې سوري کومه

***باقره***! څه وکړم په ما باندې راوغورځېږي
د ژوند دېوال سره چې هر څومره خواري کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زندان

په یو زندان کې قید وم
لکه په ځان کې قید وم
توره تیاره وه په کې
زما به شپه وه په کې
یوه مرغۍ راسره هم بندي وه
له یو دېوال نه الوته په بل دېوال کېناسته
زما نه زړه زیات د هغې درزېده
زنځیر زندان د دروازې درزېده
او زه لګیا ومه سوری مې په دېوال کې ویسته
چې دا مرغۍ له دې زندان نه وځي
د تورو شپو له دې جهان نه وځي
اوس چې وتلې ده هماغه مرغۍ
له ځان سره نورې مرغۍ راولي
وايي بهر د انسان مرګ له انسانان ولاړ دي
مونږ له زندان ښه دی بهر راته ښکاریان ولاړ دي





اوس دې د سترګو په چینه پول د چنار کېښوده
ما چې د زړه په دېوالونو ګنډه تار کېښوده

چې ستا تصویر ته ګورم خوب راځي او ټک راکوي
ما په بالښت کې د مالوچو په ځای مار کېښوده

پښتونه! ستا سوری څادر به راګنډم په ګوتو
ستن پېښور کې بږدمه، ما کابل کې تار کېښوده

ستا د وعدو زهر مې دومره په خپل ذهن وڅکل
د ژوند کتاب باندې مې نوم د انتظار کېښوده

***باقره!*** پوه شومه چې ساه مې په لاسونو وته
ما به په زمکه قدمونه په کرار کېښوده

په ماتو ښپو مې درته راوړلو روغ غر په اوږه
اوس خو مې پرېږده چې دمه وکړمه سر په اوږه

يو څو مرغان دي په کې وځي او راوځي خدايه!
چا روان کړی دی په ښار کې د کور ور په اوږه

زما ياران زما قامت څه په هنر ټيټوي
لاسونه اچوي په ما باندې اکثر په اوږه

ګرځوی نه شم نور په زړه کې ستا غمونه کنه
ګرځوی نه شي کناره نور سمندر په اوږه

***باقره!*** دا څلې مې داسې اراده کړې ده
شپه به په سترګو کې راوړمه او سحر په اوږه





ژاړم وېرېږم غر ته نه وم تلی
زه دومره لرې چرته نه وم تلی

زما جامې د وجود تاو وچې کړې
زه لا روان وم لمر ته نه وم تلی

ستا امانت به مې راوړی وی خو
زه د دنيا بل سر ته نه وم تلی

ما به ويل يوازې زمکه ګرځي
چې د اسمان محور ته نه وم تلی

***باقره!*** ما پردي زخمونه ګنډل
خو د خپل زړه پرهر ته نه وم تلی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نه د چا سترګو کې اوښکې نه د چا سترګو کې شګې
لپې لپې غورځومه د هوا سترګو کې شګې

مړه پرېږده چې پراته وي ستا غمونه زما زړه کې
مړه پرېږده چې پرتې وي د صحرا سترګو کې شګې

د څادر پېڅکه مې نه شته د لمن پېڅکه مې نه شته
تا راوړي دي سړيه! راته بيا سترګو کې شګې

خدای دې خير کړي بيا مې اوښکې دا جهان چرته يونسي
خدای دې خير کړي بيا لوېدلي دي زما سترګو کې شګې

ستا په رنګ خلک پوهېږي چې د زړه په رنځ اخته يې
ولې اچوې ***باقره***! د دنيا سترګو کې شګې؟





○

په سترګو کې زنځير دی او په زړه کې دروازې
دا دومره جګ کورونه او نازکې دروازې

د خدای نه وېرېدم که د هوا نه وېرېدم؟
چې ما به يادولې په لمانځه کې دروازې

رنګونه چا ورکړي دي خرڅېږي په بازار کې
زما او ستا له کوره چې وې ورکې دروازې

په ډېرو خوځېدلو يې لاسونه کړل خپل شل
په ډېرو ژړېدلو به اوبه کې دروازې

***باقره***! سر مې لګي چې په کاڼي پورته کېږم
دا چا راپسې بندې کړې د زمکې دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

باران ورېږي د زول شپه ده او ستا ور ته ناست یم
ګرمي مې کېږي د دریمې دنیا لمر ته ناست یم

ښه راته پته ده چې تنده مې پرې نه ماتېږي
داپته نه شته چې زه ولې سمندر ته ناست یم

خدایه! چې ما د اسرافیل شپېلۍ هم وانهورېده
خدایه! نو زه دومره له شوره لرې چرته ناست یم

زه به تر څو پورې په خپل کور کې بې کوره یمه؟
زه به تر څو پورې د خپل ځان نه بهر ته ناست یم

چاته ترې سترګې ورکوم چاته ترې زړه ورکوم
***باقره***! ځان مې دی دربار په کې لنګر ته ناست یم





○

زما په شانتې هر یو شی به زندګي نه لري
چې کوم یو ګل راشوکومه خوشبویي نه لري

کمڅۍ خورې کړي او ماشوم په کې ښه کلک وتړي
خدایه! دا ښځه په ټول کور کې یو سوزني نه لري؟

بس دومره ده چې ستا له سترګو نه مې لرې ساتي
ګنې احساس مې محبت سره بدي نه لري

پرون پرې ما خپلې جامې سړیه ومينځلې
چا ویل لاسونه د دې ښار دواړه دوبي نه لري

په دې سبب له خپله ځانه ***باقر*** نه راوځي
چې دروازه بیرته پرې خلاصه کړي کونجي نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه وخت و چې ورک شوی رانه ځان و
زر به ودرېدم چې چرته به اعلان و

ښه پرون خو ته زما په یاد کې نه وې ؟
ښه پرون ولې په شنه اسمان باران و ؟

راشنه شوي يې په ګوتو کې اغزي دي
چې ګنډلی راته کوم سړي ګرېوان و

ما کیسه ورته په ټوله لار کوله
چې وروملید سړی وروسته روان و

راوتلې مې له اوښکو سره شګې
په وجود کې مې ***باقره***! بیابان و





## ژوند

ژوند یو کور دی
په کې شور دی
دېوالونه يې واړه دي
ټول تیرونه يې وراسته دي
خاورې خاورې وجودونه
او اوبه روحونه
په کې اوسي ستړي
لکه یو کفن دوه مړي
اسمان ښکته په کې ښکاري
زمکه پورته په کې ښکاري
خو د ژوند په دغه کور کې
چې څوک ورېږېږي خدایه!
پښې وباسي له دې ځایه
ور چې بند کړي نو خلاصېږي!
ور چې خلاص کړي نو بندېږي
د انسان د کاڼي زړه هم
په کې پړک وهي چاودېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې کړي اوبه اوبه او زړه خاورې
خدای دې په دې ښار کې کړي رانجه خاورې

اوس که مې ته خورې زه خپه نه یمه
ما په ماشومتوب کې خوړې ته خاورې

څوک چې ستا په سترګو نذر ومني
وشیندي زما د کور په وره خاورې





یاد ولې زخمونه کړه راویښ زما ؟
باد ولې راویښې کړې ویده خاورې ؟

ته شوې رانه هېر که زه درياد شومه
خاورې اوبو راوړې که اوبه خاورې ؟

تاته چې درګورم شي ***باقر*** رایاد
یو شانتې دي ستا او د هغه خاورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

باور مې خود ستا په وعدې نه کېږي
د کاغذونو نه جامې نه کېږي

په هر چا سترگې د چا نه خوږېږي
د هر لرگي نه دروازې نه کېږي

ستا کافر شوی یاد مې وسوزوه
اوس مې په زړه کې زلزلې نه کېږي





چا وېل چې زه یمه له خاورو نه جوړ
زما له تن نه خو ډېوې نه کېږي

داغ د هر چا په تندي ولې جوړ دی؟
په دغه زمکه خو سجدې نه کېږي

***باقره!*** غوږ دې رانیږې کړه کنه
ځینې خبرې بیا د شپې نه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوک رایادوم خو رایادېږي نه
واوره ږدمه لمر ته اوبه کېږي نه

ستا د یاد رانجه وهم په سترګو کې
دا چینه بیا ټوله شپه وچېږي نه

سر په دېواله وهم حیران یمه
کاڼی دی په بل کاڼي ماتېږي نه



د هوا سترګو کې شګې
شاه نواز باقر

دواړه د یو بل تصویران هم سېزو
دواړو د یو بل نه هم رغېږي نه

څه وکړمه ستا د لټون لار نه شته
څه وکړمه ځان رانه ورکېږي نه

چغې ترېنه هم راځي چې تنګ یمه
هیڅوک هم په دې کور کې اوسېږي نه

شپه، زلفې، ډېوه، هوا، ***باقره***! زه
دا پنځه سوالونه مې زده کېږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا راته ویلي دي چې ستا په مخ څېره نه شته دی
ځان په کې ګورمه سړیه! ایینه نه شته دی

دا ددې کلي یوه پېغله وه لوحه نومېده
په هدیره کې چې په کوم قبر لوحه نه شته دی

ځان سره خاندم چې دا خلک خو رڼا پسې مري
ځان سره خاندم او په ټول ښار کې ډیوه نه شته دی

دې زړه ته څنګه خلک راشي حیران شوی یمه
دې کور ته څنګه خلک ځي ورته کوڅه نه شته دی

مکتب ته څمه کتابونه په لمن کې وړمه
***باقره***! اوس مې هم لاسونو کې بکسه نه شته دی





چې مې په کار و، په نوم کانې په چېنه کې نه و
په دغه ښار کې زړه د هیچا په سینه کې نه و

سترګې مې ووېستې له ځانه، ځان مې ولېد په کې
ستا ملاقات ته تلم روغ ځای په ایینه کې نه و

ای مشره تاسې د ټوپک تخم کرلی ولې ؟
ای مشره دا قلم په تېره زمانه کې نه و ؟

یوه ماشوم به شرنګولې خلک حیران و ورته
سیکې په کې وې خو سورې په خزانه کې نه و

***باقره***! داسې بې ارزښته زندګي تېرېده
چې هیڅ کردار د چا د ژوند په افسانه کې نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل وجود نه په سفر وتلی
په کور کې ناست سړی بهر وتلی

ما خو تصویر له خپله ځان ویسته
دا خو تصویر له سمندر وتلی

زمکه ولاړه ده اسمان روان دی
ستا په لټون مې چرته سر وتلی

شوې مې سر توري د اوږو پرېښتې
نن مې له یاده خپل څادر وتلی

***باقره***! شول مې دېوالونه یاران
چې مې له سترګو نه نظر وتلی





د لیونو په شانتې شمارم د خیالونو خښتې
زما په ګوتو کې بندونه د لاسونو خښتې

کور جوړوم په کې کرم د قلمونو ونې
کور جوړوم، ورته راوړم، د کتابونو خښتې

زه به ترڅو پسې وهم منډې او باد به یې وړي؟
زه به تر څو کېږدمه ستا په تصویرونو خښتې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه! چې خلك یې كتلو باندې هم ماتوي
دومره نازكې دې پیدا كړلې د زړونو خښتې

چې ورو په ورو مې هره ورځ د كور قامت ټیټیږي
څوك پټوي زما د كور د دېوالونو خښتې

*باقره*! چرته ځې چې خلك دې له خوبه ویستي
په زمكه ولې ټكوې د قدمونو خښتې





○

د مینې ساه په كې لا شته ترینه وتلې نه ده
ستا په وېښته مې غباره د زړه ترلې نه ده

هسې لګیا یې چې دنیا مې درپسې ولېده
د څادر پیڅكه دې د زمكې سر خوړلې نه ده

زه د قلم سیاهي هم بې ځایه نه كاروم
ما په كاغذ خپله نامه چرته لیكلې نه ده

لا دې خبره كړې نه ده او واپس روان یې
لا خو د ونې نه یوه پاڼه لوېدلې نه ده

*باقره*! ما ترینه تاو كړي د احساس لاسونه
د ژوند ډېوه مې د توپان مخ ته نیولې نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپیدا به کړمه لاره د چا زړه ته
زه په لپو کې اوبه وړی شمه غره ته

بیا مې پیخکه د خادر سر ته راغلې
بیا به څوک راځي ورگورم د کور وره ته

درته ودریږم په کومو سترگو خدایه!
زړه مې نه شي خو روان یمه لمانځه ته

جوړه کړې مې کښتۍ ستا له خطونو
اوس په تمه باندې ناست یم بارانه ته

چې له مانه هم زیات ستړی وي *باقره*!
زه تکیه وهمه داسې دېواله ته





بیا مې په زړه راوربېدل د چا یادونه خدایه!
څومره درانه وو د مالوچو دېوالونه خدایه!

چې دوی راگوري راته زه ورته کتلی نه شم
زما په ساه باندې ژوندي کړه تصویرونه خدایه!

په خوب کې ټوله شپه له کاڼو نه بالښت جوړوم
چې ویده کېږم سر ته ږدمه خپل لاسونه خدایه!

دومره یم تږی په هغه ځای کې اوبه راوځي
چرته چې کېږدمه خپل ستړي قدمونه خدایه!

دومره بې وسه شو چې دا هم خرڅوي لگیا دي
خلکو راوړي د وَرونو زنځیرونه خدایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

تصـــور د زنـــدګۍ پـــه کـــې ډوبيـــږي
وچ درياب دی خـو کېشتۍ په کې ډوبيـږي

د چــا اوښــکې مــې پــه لپــو کــې نيــولي
د اتــم اســمان ســپوږمۍ پــه کــې ډوبيــږي

لــه دې ځــالې نــه د ورځــې مــار راوځــې
او د شــپې يــوه مرغــۍ پــه کــې ډوبيــږي

د بــدن خــاورو نــه چــا کــړه ډېــوه جــوړه
چــې رڼــا کــوي ســبلۍ پــه کــې ډوبيــږي

پــه دې ښــار کــې زړونــه کــاڼي شــو ***بــاقره***!
چې ســتا درد او ســتا ســلګۍ پــه کــې ډوبيـږي

❧◆☙





○

بنده کوټه ده د نظر مــې پــه کــې ســاه ډوبــه شــوه
دنيــا وړه ده د نظــر مــې پــه کــې ســاه ډوبــه شــوه

تندی په مخ، سترګې په خوله، پوزه پــه زنــې پراتــه
ماته ښېښه ده د نظر مــې پــه کــې ســاه ډوبــه شــوه

پــه دېوالونــو لاس کېږدمــه کــور تــه ځــان رســوم
توره تياره ده د نظر مــې پــه کــې ســاه ډوبــه شــوه

لکــه تصــوير پــرې نوشــته يمــه او غــږ نــه کــوم
ژوند مې سېکه ده د نظر مې په کې ساه ډوبــه شــوه

***باقره***! سترګې دې ړندې نــه شــي ورګــورې څلــه
بله ډيوه ده د نظــر مــې پــه کــې ســاه ډوبــه شــوه

❧◆☙

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ستا په مراد څرنګه وترم په ونه کې تار
نه په ګریوان کې تار لرم نه په لمنه کې تار

هغه جینۍ اوس په دې غرونو کې سوري وباسي
کومې جینۍ چې اچوی نه شو په ستنه کې تار

ما ته د خپل ارمان زړوکی مخ ته نیغ ودرېږي
کله چې وګورمه زه چرته په غنه کې تار

ستا د هجران هرې لمحې ته مې مانا ورکړله
لکه سړی چې ځانله ومنډي په زنه کې تار

د خیال ګوتمۍ مې لا ***باقره***! زړه شوې نه ده
مور مې لا اوس هم اچوي پرې په ړاستنه کې تار





○

محبت دې یم راوستی انتها ته
په اوبو پسې روان یمه صحرا ته

راستنه شه ژوندون نه غواړم له خدایه
اوازونه اوس کوم خپلې دعا ته

څوک راوځي وایي اوس له کوره ووت
زه چې کله هم ورغلی یمه چا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تصویر دی خو له فریم نه یې راباسم
یو سړی قبر نه چغې وهي ما ته

چې خبر شوم له دنیا مې و تاو کړي
دېوالونه مې کول خپلې کلا ته

خلاصولی یې په خپله هم زه نه شم
داسې ګنډه مې ورکړې ده سودا ته

موده وشوه پرېشان یمه ***باقره***!
له خندا نه پاتې شوی یم ژړا ته





تږی چې په غاړه د دریاب یمه
ښکاري د پنځم موسم ګلاب یمه

خلی هم له ځانه سره وړی نه شم
خلک رانه تښتي چې سېلاب یمه

څوک یې چې وهي ګوتې یې ونښلي
زه له دروازې نه جوړ رباب یمه

دومره څوک مې نه شته چې راوامې خلي
ځالې مې نیولې دي کتاب یمه

کاڼو وی ***باقره***! ستوری شوی یې
ستورو وی په کاڼو کې حساب یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب ته مې نه پرېږدي چې سر کېږدمه شپه ده کنه
غم دې راخستې بيا زما د زړه چمبه ده کنه

ما د غمي په ځای نن غاښ په کې د چا ایښی دی
ما جوړه کړې ترېنه خپل ځانته ګوتمه ده کنه

اوس که بيخي په مخه راشې هم دې نه پېژنم
اوس مې بېخي له ياده وتې ستا څېره ده کنه





په سترګو ړوند شې، پلاره خپل لمسي هم نه پېژنې
يو سمندر دې او دا بله کناره ده کنه

زه چې ور وګورمه ستنه د ساعت ودرېږي
له مانه دومره مخکې تللې زمانه ده کنه

څله مې سر خورې ستا په زړه د مينې داغ ***باقره*** ؟
څله مې سر خورې په دېوال کې اينه ده کنه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پرده ترې چا شکولې ده سرتوره دروازه
پرته ده په سړک باندې بې کوره دروازه

په زړه کې خو دې نن چرته بېلتون راغلی نه دی
په خوب کې مې لېدلې بېګا وروره دروازه

په ښار کې د هغه سړي زړه سپین لکه شوده
په ښار کې چې د چا د کور ده توره دروازه

بچیه اوس ترې خبر دی زنځیرونه شوکوه
بچیه اوس مې خلاصه کړه له پوره دروازه

لاسونه مې شول ستړي خو ټک ټک نه کړې ***باقره***!
ویستلې ده هوا د زړه له زوره دروازه





○

زندۍ کړی مې خپل ځان په خپل څادر دی
بنده کړې مې کړکۍ او د کور ور دی

ستا د یاد مارغه له تندې نه مړ کېږي
چې وچ شوی مې د سترګو سمندر دی

د نازکو پښو نازک خاپونه
چرته تللی دا سړی مخکې کمر دی

په کوم کاڼي کې چې ګل راشوی خدایه!
په دې کاڼي چا مات کړی د چا سر دی

زه ورګورم ما ته نه ګوري ***باقره***!
خپل تصویر رانه خبر یې مرور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



O

چرته چې غم وي زما سر ته راشي
سړی چې ستړی شي خپل در ته راشي

ته چې د زلفو ښاخ ته څنډ ورکوې
د صحرا شګې سمندر ته راشې

دومره تنها يمه چې غاړه ورکړم
چې کومه ونه مې نظر ته راشي

ستا انتظار چې کومه ورځ وکړمه
د سترګو پيڅکې مې څادر ته راشي

پرېږده چې څملمه د اور په غېږ کې
***باقره***! خوب که راته چرته راشي





O

ستړی شوم روان يم نه رسېږم خپل قدم پسې
لاس کې مې قلم دی او ګرځېږمه قلم پسې

ما که دا دنيا تا پسې پرېښوده نو څه وشو
خلکو جنتونه پرېښودلې په غنم پسې

څوک په انتظار راته ولاړ دی لېونی نه شي
ځان مې امانت درسره ږدمه بيا راځم پسې

زړه مې لېونی لېونی ګرځي د چا سترګو کې
غم مې لېونی لېونی ګرځي د چا غم پسې

ډېره موده وشوه چې ګلونه تږي شوي دي
پرېږده چې وروخېژي ***باقره***! په شبنم پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ما نظر ستا د نظر مات نه شو
د غر نه لاندې ښکته غر مات نه شو

ټول مې راټول کړو په يوه لپه کې
بيا هم غرور د سمندر مات نه شو

رابنده شوې وه کوټه راپسې
عمر مې تېر شو ددې ور مات نه شو

ما به په ګل تا به په کاڼي ويشتم
خو ستا پرې زړه زما پرې سر مات نه شو

*باقره*! ستا ګرېوان به چا ګنډلی
ښه دی چې لاس دې د هنر مات نه شو





توره تياره، د قدمونو شور، د ډار کيفيت
زما په شانتې بدل شوی دی د ښار کيفيت

کوشش کوم چې پخپل موټې کې هوا بنده کړم
کوشش کوم، انځوروم، د انتظار کيفيت

د لوند قميص په شانتې زيبښي په هنر لفظونه
سړيه! تا چرته ليدلی د فنکار کيفيت؟

بيا به د سترګو په ښو د اوښکو کاڼي خورمه
بيا راخور شوی دی په ما يو نا قرار کيفيت

*باقره*! مانه د خپل زړه حالونه مه پټوه
په وچو پاڼو کې ښکارېږي د چنار کيفيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د رڼا او د تیارو تر مینځ رشتې ته
د هوا په مرکه ځمه ډیوې ته

بیا ترې وړی چا زنځیر د خدای نه ځار شم
ستا پانزیب مې لګولی دروازې ته

بیا به ټوله شپه په ویښه تیرومه
تنهایي راننوتې ده کوټې ته

ستا غمونه مې په زړه کې نه ویریږي
ماشومان مې دي راوستي هدیرې ته

لیونی به شي ***باقره!*** په دې ښار کې
غوږ به نه نیسي د هر یو سړي خولې ته





○

د محبت تنده په زړه ګرځوم
په سورۍ لپه کې اوبه ګرځوم

بس دی چې خپل وجود بار شوی په ما
نور به د دې له پاسه څه ګرځوم

چې ستا د غم سترګې پرې توري کړمه
د زړه کڅوړه کې رانجه ګرځوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له دې بيا ترينه غنم جوړ کړي
ګرځم په ژرندو باندې وړه ګرځوم

رانه هير شوی دی که نه يې پيژنم
د چا تصوير ځان سره زه ګرځو ؟

په دې ويريږمه چې مړ مې نه کړي
***باقره***! خپل سويری ويده ګرځوم





زه دومره لرې يم راغلی چې مې ځان هم نشته
د دې نه مخکې ځمکه پريږده چې اسمان هم نشته

زما د کور په ديوالونو تکيه نه وهي څوک
زما د کور په ديوالونو کې ماران هم نشته

د تسلۍ په ټال کښې هيڅوک جوټې نه را کوي
ستا جدايي ليونی کړی يم ياران هم نشته

زړه مې په دې ښه دی که جيب کې روپۍ نه لرمه
زړه مې په دې ښه دی په ښار کښې خو دوکان هم نشته

چې د وجود غوښې مې وخوړې رانه ځې ***باقره***!
په داسې ځای کښې چا وژلی يم مرغان هم نشته؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

څه څه مې وکړل د يوې ډېوې رڼا لپاره
زه په کوټه کې سوری نه پرېږدم هوا لپاره

څه تا به هير کړمه په ځان به قيامت تير کړمه
څه دا د زهروګوټ به هم وکړمه ستا لپاره

اوس له ايمان نه مخکې سوال د خپل وطن کومه
اوس چې لاسونه کړمه، پورته د دعا لپاره

دغه زړګی ډير مناسب دی په کې اوسه غمه
دغه ځنګل ډير مناسب دی د بلا لپاره

چې نه شوه ورځ په تا معلومه، او نه شپه ***باقره***!
خوب دې ساتلی دی په سترګو کې د چا لپاره؟؟





○

په دغه ښار کې اذان نه کېږي توبه ماتوم
خدايه! د خپل زړه په درزا باندې روژه ماتوم

خير دی نن ته زما د درد په سمندر کې ډوب شه
خير دی نن ته انتظار وکړه، زه وعده ماتوم

يمه بې وسه خپل بچي ته ترې تختی جوړوم
لېونی نه يم چې د خپل کور دروازه ماتوم

زر ترينه منډه کړم حيران شمه چې ما هم ولې
په کومه ورځ چې زه په کاڼي ايېنه ماتوم

په دې زندان کې نور تنګ شوی يم بهر وځمه
زنځير ماتېږي نه ***باقره***! خپله ښپه ماتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

وځمه بهر دروازه ووهم بیا را شمه
ځو به تنهایي غلطومه په ژړا شمه ؟

ته یې، زندګي ده، شاعري ده، او غمونه دي
یو موټی سرې یمه حیران یم چې د چا شمه ؟

هله به راوځمه له ځانه چې ډیر تنګ شمه
هله به راوځم دې ځنګل نه چې بلا شمه

خاورې د وجود مې ستا د سترګو په باڼو پریوځي
کله کله دومره ستا په سترګو کې فنا شمه

زه چې ډیوه بله کړم *باقره*! زر هوا راشي
هیڅ کولی نه شم له غصې نه په خندا شمه





○

ږدمه خپل لاسونه په اور نه سوزي
ولې کاغذونه په اور نه سوزي

خیر دی زه به تاته انتظار کوم
خیر دی دیوالونه په اور نه سوزي

ځینې خلک هیڅ د چا هیریږي نه
ځینې تصویرونه په اور نه سوزي

سترګې مې ړاندې په شوګیرو شولې
چا ویل چې خوبونه په اور نه سوزي ؟

ستا له غمه مړه نه دي *باقره*! څوک
تانه بغیر زړونه په اور نه سوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خاپونه دې پرې ښپه د بل ده
راغلې زه يم اوازه د بل ده

ځان په کې نه ګورمه بد ښکارمه
زما په کور کې ايينه د بل ده

کاڼي زمونږ د وطن کيږي په کې
خلک پرې ولې او لينده د بل ده

که زړه زما دی واک يې تا سره دی
که کور زما دی دروازه د بل ده

***باقره!*** ټوله شپه به خوب نه راځي
چرته مړه شوې بيا ډيوه د بل ده؟؟





په ديوالونو تصويران، په تصويرونو ځالې
دا باڼه نه دي دا به وي په نظرونو ځالې

په دغه ښار کې خلک نه ګوري يو بل ته خدايه!
هسې نه وشي د دې خلکو په مخونو ځالې؟

د تنهايۍ خادر ترې ځان لا جوړاوم لګيا يم
زه هره شپه راټولومه د يادونو ځالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلها موده وشوه چې دلته چا بل کړي نه دي
ځکه خو ونیولي دلته څراغونو ځالې

چې اسویلي کوم له خولې نه مې لوګي راوځي
دننه زړه کې سوزوم ستا د غمونو ځالې

زما په خیال د قسمتونو کرښې نه به وي دا
زما په خیال ګوره پراتې دي په لاسونو ځالې

دا پردې نه دي دا مې تا پسې نارې وهلې
ستا په غوږونو کې زما د اوازونو ځالې

سترګې مې ډکې شي ***باقره***! او ښه وژاړمه
چرته چې وګورمه زه په کتابونو ځالې؟





دا ډیوه هله بلیږي چې تیز باد شي
یو سړی چې رانه هیر شي، نو رایاد شي

څومره زړونه چې درکړي خلکو تاته
که یې خښتې کړې نو ښار به پرې اباد شي

چې پخپل نصاب یې روږدې کړمه ژبه
ماشومان به مې بیا ستوري د هیواد شي

د کور وره ته به یې ولګوم خیر دی
ستا په ښپو کې که پایزیب چرته ازاد شي

ستا په زړه کې ورته بد نه وي ***باقره*** !
چې ښېرې هم چا ته وکړې نو پرې ښاد شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال دې ولې دومره ښه دی؟؟
ستا خو عمر دومره نه دی

غورځومه په کې کاڼي
زړه مې ټول اوبه اوبه دی

شرق باران پرې را وریږي
لیونی په کې ویده دی

د مرۍ نه مې تاو شوی
بیا د چا د سر ویښته دی؟؟

په میږي ماتوم مینه
ستا د کور د دېوالـه دی

تاته غږ کوي ***باقره***!
خوک ولاړ پاسه په غره دی





په سیند کې ډوب شوې په اوبو کې به اسمان نه ګورې
ستا چې بیا یاد وې په شیشه کې به خپل ځان نه ګورې

د انتظار چترۍ مې بیا د زړه په سر نیولې
ته خو د خپلو وعدو شرقنده باران نه ګورې

شاید ګلونه به هم پاڼې د رڼا ونیسي
چې د ډیوې نه مې جوړ کړې دې ګلدان نه ګورې؟؟

په سترګو ړوند شې په دې زړونو کې غمونه نشته؟؟
په سترګو ړوند شې دیوالونو کې ماران نه ګورې؟؟

وچه ډوډۍ کړې ځان ته خرڅه غباره پرې واخلې
ته یې ترې خوشې کړې ***باقره***! ماشومان نه ګورې؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

راتــه ښــکارېږي مګــر نــه را رســـي
خدايــه! زمــا د کــور ور نــه را رســي

موږ ته له ځان نه فرښتې جوړې کـړي
د چا چې ځمکې تـه سر نـه را رسي

د ځينې درد نـه سـړی خونـد اخلـي
تـږی يـم ډېـر سـمندر نـه را رسـي

تيــاره ده لاس پــه دېوالونــو وهــم
وړانګې کـوټې تـه د لمـر نـه را رسي

*باقره!* ځـالې مـې غوږونـو وکـړې
ســتا د راتللــو خبــر نــه را رســـي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**